مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالغفور لېوال
۲۰۲۰/۰۵/۲۶

# زموږ د استادانو استاد نن په پردیسی کې وفات شو

لا د ښوونځي متعلم زلمکی وم، له ادبیاتو سره مې مینه وه. یو ځل خپل مشر ورور، پوهاند دودیال، له ځان سره کابل پوهنتون ته بوتلم. هلته علمي سیمینار و. د نورو ګڼو مشرانو ترڅنګ مې دوه ستر شخصیتونه؛ پوهاند میرحسین شاه او کاندیداکاډمیسین محمد صدیق روهي هم ولیدل. د دواړو شخصیتونه مهربان او اغېزناک راوبرېښېدل.

له پوهاند میرحسین شاه څخه چا څه وپوښتل، په خوږه کندهاری لهجه یې ځواب ورکړ.

د پوهاند میرحسین شاه څه شاګردان اوس زموږ استادان دي، ټول یې په خورا درناوي یادوي او پیاوړی ملي او هېوادپال شخصیت یې ګڼي.

زه پوهېږم، چې زموږ د نسل وطنپالو استادانو ملي فکر، اکاډمیک اخلاق او له افغان و افغانستان سره مینه له خپلو همدغو استادانو څخه اخیستي دي.

څوکاله وړاندې مو یې نویېمه زوکالیزه په کابل پوهنتون کې ولمانځله.

زموږ د استادانو استاد نن په پردیسی کې وفات شو.

لوی خدای ج دې د خپل ګران افغانستان په خوږو وږمو کې نغښتی، د جنت مېلمه کړي!

آمین






افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنيز بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ